# پښتو شاعرۍکښې رجائیت
# Optimism in Pashto Poetry

محمد أنور خان *


## Abstract

Pashto poetry contains trends of optimism which makes life full of hope and courage considerably. A distinct number of Pashto poets portray the real social life issues of Pashtun society and give them the communicative message that life could be better if sought the lines of hope and expectation. Some of the renowned Poets comprise Khushal Baba, Ghani Khan, Ajmal Khatak, Rehmat Shah Sail, Abdur Rahim Roghani, Darvish Durani and Amjad Shehzad. Optimistic poets see the lively aspects of life and portray these sides in the poetry which makes life better. This research article shall shed light on trends and lessons of the notable poets of optimistic approach. This will show how Pashto poetry rich in hope and courage to have smooth life. The methodology will be text-analysis of the renowned optimistic poets.


**Keywords**: *Optimism, Optimus, cynicism, Meleorism, Gottfried Leibnitz, theodicy. Pashto Literature; Poetry.*

رجائیت یوه تنقیدي او نفسیاتي اصطلاح ده۔ رجا د عربۍ ژبې توري "رجا" نه ماخوذ دے۔ چې معنی ئې ده، اُمید، آرزو، آسرا، تمناّ، خواهش، ساتل۔یعني په هر حال کښې ښه هیله لرل او د مایوسۍ او نااُمېدۍ اظهار نه کول۔د رجائیت دپاره په انګرېزۍ ژبه کښې د اپټي میزم (Optimism) تورے راځي۔ چې معنی ئې ده، د ژوند سره مینه کول۔ د رجائیت اصطلاح په پښتو ژبه کښې همد هیلي او امید دپاره په استعمال راوړلےشي۔

د دې اصطلاح سره "اعتماد، امیدي، زنده دلي هم معنی الفاظ دي۔

د دې برعکس اصطلاحات (Pessimism, Cynicism) دي۔

د رجائیت (Optimism) اصطلاحي معنی او تشریح انسائیکلوپیډیا امریکانا داسې کوي۔

> "Optimism: (Lat. Optimus, best), the opinion that this world, physically, socially and morally, is the best that could possibly exist. It is opposed to Pessimism (Lat. Pessimus, worst), the opinion that this is the worst possible word. The optimist looks upon existence as a great and unmixed good."[1]

ترجمه: رجائیت (لاطیني، اپټي موس: بهترین) دا هغه خیال دے چې دې نړۍ په طبعي او معاشرتي حقله یوه ښه ممکنه نړۍ وائي۔ رجائیت پسند د دې دنیا ژوند

* پي ایچ ډي سکالر، پښتو څانګه، پېښور پوهنتون.

خالص د خير نظر کوي۔ درجائيت (Optimism)په حقله پروفېسر انورجمال ليکي!

> "یہ تنقید اور نفسیات کی اصطلاح ہے۔ "رجا" عربی میں امید کو کہتے ہیں۔ ادبی اصطلاح کے طور پر آرزو مندی، زندگی سے محبت اور پر اُمید لہجہ اختیار کرنا رجائیت ہے۔ شاعری میں خاص طور پر ایسے موضوعات اختیار کرنا جن سے عزم، ولولہ، حوصلہ اورر امید کے جذبات پیدا ہوں "رجائیت" ہے۔ رجائیت قنوطیت کی ضد ہے۔"[2]

ترجمه: دا د تنقيد او نفسياتو اصطلاح ده۔ "رجا" په عربی ژبه کښې اميد "هيلې" ته وائي۔ په ادبي اصطلاح کښې هيله لرل، ژوند سره مينه کول او د هيلې نه ډکه لهجې خپلولو ته رجائيت وائي۔ په شاعرۍ کښې په خاصه توګه داسې موضوعات خپلولول چې د هغې نه په جذباتو کښې اراده، جوش او حوصلې کښې د هيلې جذبات پيدا شي، دې ته رجائيت وائي۔ رجائيت د قنوطيت ضد دے۔

رجائيت د قنوطيت (Pessimism) ضد دے۔ په رجائيت کښې اُميد او هيله وي او په قنوطيت کښې مايوسي خواره وي۔په پښتو ادب کښې په شعوري او په لاشعوري توګه د دې اصطلاح لاندې ليکونه په نظر راځي۔ په نظم او نثر دواړو کښې ليکوالانو د هيلې او اميد څرګندونه کړې ده۔

ښاغلے فضل مير خټک د رجائيت په حقله د مولوي عبدالحق وينا داسې رانقل کوي۔

> "د ادب په اصطلاح کښې د هر شي او هرې واقعې روښانه اړخ باندې نظر ساتل او د مستقبل په حقله پُراُميده اوسيدل رجائيت دے۔ داسې کس چې په رجائيت باور لري، رجائي دے۔"[3]

**د رجائيت اُصول:**رجائيت په درې اُصولو باندې يقين لري۔

١: دا هغه رجحان يا سلوک دے چې په کښې ټولو واقعاتو او کيفياتو ښهٔ اړخ ته نظر کول وي او د ښې نتيجې اميد ساتل وي۔

٢: دا عقيده لرل چې نيکي به په بدۍ کښې سرائيت کوي۔

٣: دا درس ورکول چې دا دنيا د اوسېدو دپاره يوه ښهٔ ممکنه دنيا ده۔[4]

رجائيت هغه رجحان ته وئيلے کېږي چې دا نړۍ د نيکۍ دپاره ده۔ د دې خالق دا د نيکۍ دپاره پيدا کړې ده۔ په دې د نړۍ کښې به اخري فتح هم د نيکۍ وي۔ په هر څه کښې ښهٔ اُميد ساتل رجائيت دے۔ د دې اُصول دا دي چې په بدۍ به نيکۍ ته فتح کېږي او بدۍ ته به شکست ورکولے کېږي۔ بد عمل په خپله انسانيت ته د ښهٔ کار درس ورکوي۔ دا په عملي توګه د رياضت، عمل او د تکليفونو زغملو په نتيجه کښې په لاس راځي۔ دا يوه فلسفيانه اصطلاح ده چې په دې دنيا کښې ژوند په هره ممکنه طريقه ښهٔ ژوند وي۔

مکاتب فکر: راجائيت يوه فلسفيانه اصطلاح ده۔ په دې کښې فلسفيان په درې ډلو کښې تقسيم شوي دي، چې دلته ئې په اختصار سره جائزه اخلو۔

په رجائيت کښې يوه ډله دا وائي چې د ښو او بدو خالق په دې مجبوره نه وهٔ چې ښو

سره دي بد نه پيدا کوي بلکې دا په انسانيت باندې انحصار لري چې د ښو کارونو انتخاب اوکړي۔

Some advocates of optimism have maintained that while the author of all things was not compelled to produce the best and happiest order to things, he has in fact actually done so, because the presence of evil teaches mankind to discern and choose the good, by striving through suffering and self-exertion to attain the blessedness which is within the reach of all alike.[5]"

ترجمه: د رجائيت مبلغين دا درېز لري چې د ځيزونو ليکونکے په دې مجبور نه وۀ چې هغه دې هر څه ښه او په ترتيب پيدا کړي۔ په حقيقت کښې د دې تخليق کار داسې څکه کړي دي چې د بدۍ په موجودګۍ کښې خلق د خېر کارونه چوڼ کړي۔ دا هر څه په خپل کوشش او سعي سره ممکن کړي او خوشحالي حاصله کړي۔

بله ډله دا وائي چې د دنيا خالق دپاره دا ناممکنه نه وه چې هغه داسې څه پيدا کړي چې هغه ښۀ نه وي۔ دا ډله دا درېز هم لري چې د انسان د پيدا کولو نظريه په نه پيدا کولو باندې څکه قوي ده چې دا به ښه اونيک کارونه کوي۔

Other optimists reason a priory that it is impossible that God could produce anything that was not the best; that in spite of evil and suffering, it harmonizes with the idea of His perfect goodness to infer that the motive for the creation of man is stronger than that for non-creation, in that life afford me of enjoyment which are unquestionable and give the opportunity and capability of attaining perfection. The discussion as to the preponderance of good or evil in the world and their admixture was maintained by the fathers of the church and by the schoolmen.[6]

ترجمه: ځيني رجائيت پسند دا وائي چې د خدائے دپاره دا غير ممکنه نه وه چې هغه داسې څه پيدا کړي چې هغه ښه نه شي کېدلے۔د خراباتو او مشکلاتو برعکس ښه ځيزونو پيداکول ممکن وو۔ښه او بد عوامل څکه پيدا کړي شوي دي چې د انسان تخليق ضروري امر وۀ۔د ښو ځيزونو انتخاب سره به انسان د کمال درجې ته رسي۔دا بحث په ښو او بدو زور اچوي چې د دې يو بل سره خلط ملط کول په دنيا کښې د کليسا او مکتب ذمه وارو قائم ساتلے دے۔

جديد رجائيت پسند فلسفيان يوه اصطلاح راوړي چې ورته چې ورته "ميليورزم" “Meliorism” وئيلے شي۔ د دې اصطلاح منونکي دا وائي چې دنيا به بالاخر ښه طرف ته روانه شي۔ دا اصطلاح د رجائيت او قنوطيت په مينځ کښې راځي۔

“Among modern optimist philosophers are Descartes, Malebranche, Spinoza and Leibnitz. The last in his theodicee elaborately expounds thesis that the present world is the best possible creation, and the most perfect that omnipotence

would produce. Optimism also is applied to that attitude to life which always looks on the bright side of things. Meliorism is applied to that attitude to life which believes that the world can be improved.[7]"

ترجمه: په جديد رجائيت پسند فلسفيانو کښې چې کوم سرخيلان دي په هغو کښې ډسکرټس، ميل برانچ، سپينوزا او لبنټز دي. په اخر کښې لبنټز په خپل مضمون تهيوډيسي ( يعني بدو ته جواز پيداکول) کښې هغه وائي چې موجوده نړۍ د خدائے يو ښه ممکن تخليق دے او د نړۍ دا تخيلق د قادر مطلق يو کمال دے. رجائيت د ژوند په هغه ټولو رويو اطلاق کوي کوم چې هميشه د څيزونو ښه اړخ ته ګوري. ميليولزم د ژوند په هغه اړخ اطلاق کيږي چې دا نړۍ په ژوند کښې بهتري راتلے شي.

د رجائيت پسند ادب ليکوالان دا پيغام ورکوي چې په نړۍ کښې به نيکۍ په بدۍ باندې غالبه وي. دا اُميد ساتل چې د هرې معاملې انجام به ښۀ وي.

د رجائيت اصطلاح ابتداء او تاريخ:

**د** رجائيت(Optimism) **اصطلاح** ابتداء **د فرانس او لاطيني ژبې نه شوې ده**.په اوّل ځل دا اصطلاح يو جرمن فلسفي ګاټفريډ لبنټز په خپل کتاب"تهيوډيسي" په کال ۱۷۱۰ کښې استعمال کړې ده.

"1759(in translation of Voltaire) from French optimize (1737), from Modern Latin optimum, used by Gottfried Leibniz (in "Theodicee", 1710) to mean "the greatest of good", from Latin optimus "the best" (see optimum). The doctrine holds that the actual world is the "the best of possible worlds, in which the creator accomplishes the most good at the cost of the least evil."[8]

ترجمه: په کال ۱۷۵۹ء کښې ( د والټيئرترجمه) د فرانسيسي اپټي مائيز (۱۷۳۷ء) د جديد لاطيني اپټيمم کوم چې ګاټفريډ لبنټز (په کال ۱۷۱۰ء کښې په تهوډيسي) کښې استعمال کړے دے، د دې مطلب دے،"د ښو کارونو عظيم اړخ"، د لاطيني اپټي موس "بهترين" (وګورئ اپټيمم). دا اصول مونږ ته دا ښائي چې اصل نړۍ "بهترينه ممکنه نړۍ" هغه ده په کومه کښې چې خلق خپل کارونه داسې کوي چې ډېر ښه کوي او بد ډېر کم کوي.

د جرمن فلاسفر ګاډ فريډ لبنټز دکتاب "تهيوډيسي" په حقله راځي!

"Essays of Theodicy on the Goodness of God, the freedom of Man and the origin of Evil", more simply known as theodicee, is a book of philosophy by German polymath Gottfried Leibnitz. The book published in 1710, introduced the term theodicy, and its optimistic approach to the problem of evil is thought to have inspired Voltaire's Candide (albeit satirically)."[9]

ترجمه: د تهيوډيسي مضامين کوم چې د خدائے په ښو باندې اډانه لري چې په هغې

کښې د انسان ازادي او د ګناه ابتداء کېږيچې ورته په اسانو ټکو کښې تهيوډيسي وئيلے شي د جرمن پولي متهـ ګاټفريډ لبنټز د فلسفې يو کتاب دے۔ دا کتاب په کال ۱۷۱۰ء کښې شائع شوے دے۔ په دې کتاب کښې د تهيوډيسي اصطلاح استعمال شوې ده۔ په دې کتاب کښې د بدو کارونومشکل چې د رجائيت کومه طريقه اختيار کړې شوې ده، د تهيوډيسي ليکوال ښکاري چې د والټئير کانډائيډ نه متاثر شوې وي۔
د دې اصطلاح په باقاعده توګه تصديق په کال ۱۸۴۱ء کښې ايمرسن او په کال ۱۸۱۹ء کښې شيلے کړے دے۔

> "Launched out of Philosophical Jargon and into currency by Voltaire's satire on it in "Candide". General sense of "belief that good ultimately will prevail in the world" first attested 1841 in Emerson, meaning "tendency to take a hopeful view of things" first recorded 1819 in Shelly."[10]

ترجمه: د والټئير د طنزيه نظم "کانډائيډ" د فلسفيانه زبان نه مونږ دا نتيجه اخذ کوو چې هغه وائي چې په نړۍ کښې به اخر هم د خير غالبه وي۔ د خير دې عقيدې په اول ځل په کال ۱۸۴۱ء کښې ايمرسن تصديق اوکړو بيا په کال ۱۸۱۹ء کښې شيلي د څيزونو د خير اړخونو باندې نظر واچولو۔
د رجائيت دوه قسمونه دي۔ يو ته مجمهول رجائيت وائي او بل ته فعال رجائيت وئيلے شي۔ په مجهول رجائيت کښې د وخت او د حالاتو انتظار کېږي۔ داسې اميد ساتلے کېږي چې وخت سره به حالات سم شي۔ داسې قسمه رجائيت خپل ليکوال لري۔د فعال رجائيت ليکوالان د حالاتو د سمولو دپاره هيله مند نه وي بلکې دوئې د حالاتو د بدلون دپاره هلې ځلې کوي۔ د قلم په ذريعه د حالاتو د سمولو اميد لري۔ دوئې د ناکامۍ سوچ نه لري۔ د روښانه راتلونکي ښه اميد لري۔
ادب د ټولنې د خېر ښېګړې دپاره راښکلے کېږي۔ د پښتو ټولنه د قنوطيت ښکار ده۔ په دې کښې اکثريت د ژوند نه فرار دے۔په رجائيت کښې د ژوند سره مينه ده۔ په رجائي ادب کښې ټولنې ته د ژوند سره د مېنې درس ورکولے کېږي۔ د ژوند هر بد وخت ته په مثبت عمل شکست ورکول دي۔ داسې اميد ساتل چې فتح به د نيکۍ وي او بدۍ ته به شکست ورکولے کېږي۔ دې رجحان ته رجائيت وئيلے شي۔

**پښتو شاعري کښې رجائيت:**

د پښتو شاعرۍ د کلاسيک درې دورونه دي۔ د رجائيت تر اُصولو لاندې په اول د (پټې خزانې) په دور کښې او دويم د (روښانيانو) په دور کښې مونږ ته په حقيقي معنو کښې رجائيت په نظر نه راځي۔ په دريم دور کښې چې مونږ ورته (زرين دور) وايو په دې دورکښې خوشحال بابا د ټولو نه لوے رجائيت پسند وۀ۔ بلکې د رجائيت يو مبلغ وۀ۔ په دې دور کښې عبدالحميد باباو علي خان رجائيت پسند شاعران دي۔د دوئي شاعري د نيکۍ درس سره په دې دنيا د ښه ژوند درس ورکوي۔د اميد او ښۀ وخت د درس ورکولو په باره کښې خوشحال بابا وائي۔

خلق واړه د اندوه په درياب ډوب دي
کله کله له دريابه سربلند کا[11]

دا خبره ښۀ ښکاره ده چې د ژوند نه فرار ناممکن دے. رجائيت کښې حرکت دے. خوشحال بابا هم په دنيا ژوند فاني ګڼلے دے خو د فرار لاره ئې نه ده خپله کړې. هغه په ميدان ولاړ دے او د ژوند په هر ډګر خپل کردار لوبوي او د ژوند نه خوند اخلي.د خوشحال بابا رجائيت فعال رجائيت دے. د دې برعکس رحمان بابا د قنوطيت ښکار دے. هغه د جلوت په ځاے خلوت ته ترجيح ورکوي چې د ژوند دپاره جمود دے او جمود مرګ دے.د رجائيت يو افاقي مثال دلته د عبدالحميد بابا ديوان نه راوړو.

ته په اصل کښې نيک خوئي وې پېدا شوے
دا بد خوئي دې له رقيبه مګرپور که[12]

عبدالحميد بابا د فعال رجائيت پُراميده ژوند داسې تبليغ کوي.

که ګذر د باغ په لور کړے زه ضامن يم
که دې سروه په رکاب نه شوه روانه[13]

په جديد دور کښې چې د رجائيت کوم شاعران دي په هغو کښې غني خان د رجائيت سرخېل دے.غني د ژوند سره مينه کوي. د ښه ژوند ترغيب ورکوي. په هر څه کښې ښه اميد ساتي. د دې دنيا ژوند ته په ښه عمل سره ښه ژوند وائي. د دې دنيا ژوند عبث نه ګڼي.غني خان مجهول رجائيت هم ښکاره کړے دے خو د فعال رجائيت يوه نموه ده. د فعال رجائيت د يو لوے مبلغ په حواله ئې دلته يو شعر راوړو!

دا يو دوه ګړئ ژوندون دے
په خندا خندا ئې تېر کړه[14]

ښۀ ژوند او ښۀ ټولنه د هر مثبت سوچ لرونکي لويه تمنا وي. په ښۀ ژوند کښې ښکلا او رنګينئ وي. د دې په حقله د ښاغلے عبدالباري جهاني اپروچ هم رجائي دے. هغه په يو نظم د ښۀ ژوند په اميد داسې اظهار کوي.

بيا به ناخي په لاسو کښې ګيلاسونه
هر ګل بوټے هرڅانګه به سوما شي
بيا به مستې په شپېلئ کښې وي سندرې
مرور قسمتبه بيرتهراپخلا شي[15]

اجمل خټک د رجائيت يو روڼ او ړرکېدونکےمثال دے. هغه په خپل نظم "د اُميد رڼا" کښې ليکي!

دې د زېر وبمپردو کښې پټ پټونے کوي ساز دے
په دې چپ غوندې ګنبد کښې کۀ پوهېږے يو اواز دے

وائي اے د زړه خاونده ښهٔ دي ښهٔ دي چې څه کېږي
دا دنيا دائي دستور دے دلته هر حالت بدلېږي
دا ماحول چې حيرتناک دے يو خوندناک منظر به راوړي
دا تورتم چې راخور شوے يو تک سپين سحر به راوړي
د دې مړو خاورو لمن کښې نوے ژوند راپېدا کېږي[16]

په دې نظم کښې مجهول غوندې رجائيت دے۔ مګر د ښهٔ راتلونکي دپاره پُراميد دے۔

قلندر مومند د رجائيت يو ښه مثال دے۔ په يو غزل کښې هغه ليکي!

په دې توره درنه شپه کښې ما چراغ د وينو بل کړو
د اُمېد په رڼو ستورو زما ذهن افلاکي دے[17]

ما بعد جديديت کښې بې شماره رجائيت پسند شاعران دي۔ د مثال دپاره د يو څو کسانو د کلام نمونې دلته راوړلے شي۔

عبدالرحيم روغانے د رجائيت پسند سره سره ډېر حقيقت پسند هم دے۔ هغه وائي!

مايوسي لويه ګناه ده،روغانيه توبګارشه
چې دا نور جهان پرې دِرومي تهٔ هم څه په دغه لاره[18]

مخکښې روغانے وائي!

شي کېدے په دې سکروټو کښې لال هم وي
داُميد په اور لړوني انګارګورم[19]

عبدالرحيم روغاني د رجائيت د ښو او د بدو اړخ هم رابرسيره کړے دے۔ په يو شعر کښې وائي!

بدخواهان به دې ورک نه کړي روغانيه!
بل چراغ کله ورکيږي په تيارهٔ کښې[20]

روغانے په دې شعرونو کښې د مجهول قسم رجائيت کيفيت ښائي۔ ځکه چې د ښه وخت راتلو اُميد ساتل فعال رجائيت نه دے۔ لکه دلته هم دغه شان يو شعر راوړو۔

وارخطا نه شې روغانيه! هر څهٔ کېږي پهٔ وخت
غوټۍ به ګل شي چې موده پرې لږه نوره اوځي[21]

په لاندې مثلث کښې روغانے واضح فعال رجائيت ښائي۔

ستا ښکلا مئين کړمه، اوس به ښکلووم ښکلا
بدو نه نفرت کووم، هر ځاےلټووم ښکلا
خود به لرو بر ګرځم، خود به در پهٔ در ګرځم[22]

درويش درانے د ښه ژوند هيله لري۔ د دې دپاره د کوشش او سعي سبق وکوي۔ په خپلو شعرونو کښې د دې اظهار داسې کوي!

په خوند خوند شوه له غزلو سره تېره
زندګي مې کړهٔ له ګلو سره تېره[23]

یو بل ځاے کښې دریش دُرانے داسې ګویا دے۔

هیله وه لکه ډېوه مړژوانده شوې
د زړګي مې رڼائي وه زیاتي کمه[24]

په مابعد جدیدیت ادب کښې د فیصل فاران یو شعر ته ځیر کېږو۔

د حقیقت دنیا ته بېرته راشه
فرانه څه کړې د قېصوخبرې[25]

په مابعد جدیدیت کښې نور بلها رجائیت پسند شاعران دي لکه مابنام خټک، همایون همدرد، ساحل یوسفزے او داسې نور د ښه ژوند په امید خپل اواز پورته کوي۔
په رجائیت کښې په یو حال کښې مایوسي نشته۔رجائیت کښې ژوند دے او په اُمید ولاړدے۔د ښه اُمید ساتلو دپاره د جهد مسلسل او د تکلیفونو برداشت دے۔ بالاخر په بدو کښې د ښو سرائیت دے او فتح د نیکو کارونو او د ښه ژوند دے۔
**نتېجه**:ژوند د هر انسان د پیدائش نه واخله تر مرګ پورې په یو دور باندې محیط دے۔ ژوند د هر انسان قیمتي دے۔ ژوند د انساني جسم او روح مرکب دے۔ روح د جسم د حرکت سبب ګرځي۔ شعور ورله لار سموي۔ انسان د ښه مستقبل په امید په حال کښې خپل کردار لوبوي۔ مسائل د انسان په ژوند اثر انداز کېږي او انساني ژوند د بد نه بد تر ته راکاږي۔ انسان د مسائلو او تکلیفونو خلاف مبارزه شروع کړي۔ په داسې کیفیت کښې رجائیت یو داسې سبق دے چې انسان کښې خود اعتمادي، امید او خواهش راپورته کوي او انسان جهد مسلسل طرف ته راکاږي چې اخر په بدو باندې غالب شي او د ښه عمل په ذریعه د ښه ژوند مالک شي۔په رجائیت کښې یو لوے سبق دے چې د دې دنیا ژوند یو ښه ژوند دے۔ دا ژوند که خراب شوے دے، دا د دې دنیا د غلطو نظامونو او د غټو بیانیو(Grand narratives) له کبله په انسان باندې بدتر شوے دے۔ په مابعد جدیدیت کښې د دې ګرینت نیریټیوز خاتمه روانه ده۔
د ښو او بدو مبارزې د انساني ژوند سره تشکیل موندلے دے۔کوم څه چې انسان مومي هغه فطري وي هغه حقیقت وي او کوم څه چې انسان راښکلي وي هغه رښتیا نه وي بلکې هغه انسان راښکلي وي او د هغې شکل په بل قسم هم ممکن وي۔ د دې تشکیل خلاف مبارزه کښې هم رجائیت پروت دے۔ انساني ژوند به په دغه لار د نیکۍ طرف ته ځي او اخر به انسان په بدو غالب شي او بدۍ ته به شکست اوشي۔ د دنیا ژوند به یو ښه ژوند شي او انسان به د خوشحال ژوند مالک شي۔

حوالې او اخذ لیکونه

[1] The Encyclopedia AMERICANA, 1958,Volume #20,,Page#771
[2] انورجمال، پروفېسر، ادبي اصطلاحات،نیشنل بک فاؤنډیشن اسلام اباد، ۲۰۱٦،ص،۱۰٦

[3] خټک، فضل میر، فضلیات د پښتو ادبي اصطلاحات،حیات بُک ډپو مین بازارکرک، ۱۹۹۹ء ص،۲۱۲
[4] Optimism: available on, www.dictionary.com/browse/optimism,accessed on 24.04.2017
[5] The Encyclopedia AMERICANA,1958, Volume #20,,Page#771
[6] The Encyclopedia AMERICANA,1958, Volume #20, Page#771
[7] The Encyclopedia AMERICANA,1958, Volume #20, Page#771
[8] Optimism: available on, www.dictionary.com/browse/optimism,accessed on 24.04.2017
[9] Thoodicee: available on,http://en.wikipedia.org/wiki/theodicee, accessed on 29.04.2017
[10] Optimism: available on, www.dictionary.com/browse/optimism,accessed on 24.04.2017

[11] د خوشحال خان خټک کلیات، اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانګه، عبدالقیوم زاهد مشوانے، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۱۳، ص، ۳
[12] دیوانِ عبدالحمید (دُرومرجان)، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، جون ۱۹۹۱ء، ص، ۱۰۳
[13] ایضاً، ص،۹۷
[14] خان، غني، لټون، یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور، جنوري ۲۰۱۲ء ص، ۹۶
[15] جهاني، عبدالباري، پایکوب، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، ۱۹۹۳، ص۱۵
[16] خټک، اجمل، د غیرت چغه، یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور، ۲۰۰۷ء، ص، ۱۱۰
[17] مومند، قلندر، سباؤن، قامي مکتبه پېښور، ۱۹۷۶ء، ص،۹۱
[18] روغانے، عبدالرحیم، سندریز احساس، یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور، ۲۰۱۶ء ص، ۱۱
[19] ایضاً، ص، ۱۵۵
[20] روغاني، عبدالرحیم، یونیوسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور، ۲۰۱۶، ص، ۱۳۶
[21] اهم دغه اثر، ص، ۱۳۳
[22] هم دغه اثر، ص، ۵۹
[23] دُرانے، درویش، کر د ګُلو، صحاف نشراتي موسسه کاسي روډ الامان اځکزے پلاره کوټه، ۲۱۱۴ دویم چاپ، مخ ۱۵
[24] دُرانے، درویش، کر د ګُلو، صحاف نشراتي موسسه کاسي روډ الامان اځکزے پلاره کوټه، ۲۱۱۴ دویم چاپ ، مخ ۸۹
[25] فاران، فیصل، لاکلام،محکمه ثقافت خیبر پښتونخوا پېښور، ۲۰۱۶ء، ص، ۶۷

## پښتو کتابیات


1. ادبي تنقید، پروفېسر ډاکټر عارف نسیم، امین پرنټنګ پرېس، پېښور ښار، جون ۲۰۰۷ء
2. ادبي تنقید، سید رسول رسا، یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور، چاپ کال نامعلوم
3. پایکوب، عبدالباري جهاني، ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، ۱۹۹۳
4. پټه خزانه، محمد هوتک بن داود، د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹هـ
5. پشتو زبان و ادب کي مختصر تاریخ، عبدالله جان عابد، یونیورسټي پبلشرزپېښور، ۲۰۱۱ء
6. پښتانه لیکوال(اول ټوک)، همېش خلیل، یونیورسټي پبلشرز پېښور،جولائي ۲۰۱۰ء
7. پښتانهٔ لیکوال (دویم ټوک)، همېش خلیل، یونیورسټي پبلشرز پېښور،جولائي ۲۰۱۱ء
8. پښتانهٔ لیکوال (دویم ټوک)، همېش خلیل، یونیورسټي پبلشرز پېښور،فروري ۲۰۱۶ء
9. د عبدالرحمان بابا دیوان، میا سید رسول رسا، یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور پښتنونخوا، مارچ ۲۰۰۹ء
10. د حمزه شینواري دیوان، یونورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور، پښتونخوا ، اپریل ۲۰۱۰ء
11. د خوشحال خان خټک کلیات، اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانګه، عبدالقیوم زاهد مشوانے، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۱۳
12. دُرانے، درویش، کر د ګُلو، صحاف نشراتي موسسه کاسي روډ الامان اځکزے پلاره کوټه، ۲۱۱۴ دویم چاپ
13. د غیرت چغه، اجمل خټک یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور،۲۰۰۷

14. ديوان اشرف خان هجري، ډائريکټرپښتواکيډمي پيښور يونيورسټي،۲۰۰۱ء
15. ديوان عبدالحميد (ډُرومرجان)، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، جون ۱۹۹۱
16. سباؤن، قلندر مومند، قامي مکتبه پېښور، ۱۹٤٦ء
17. سندريز احساس، عبدالرحيم روغانے، يونيورسټي بُک ايجنسي خيبر بازار پېښور، ۲۰۱٦
18. فضليات د پښتو ادبي اصطلاحات، فضل مير خټک، حيات بُک ډپو مين بازارکرک،۱۹۹۹ء
19. ګل پرهر ، اجمل خټک يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پښور ، ۱۹۹۰ء
20. ګلونه تکلونه ، اجمل خټک يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پيښور شهر پاکستان، کال نا معلوم
21. لټون، غني خان، ثاني پرنټرز محله جنګي پشاور،جنوري ۲۰۱۲ء
22. لټون پسې لټون، غني خان، يونيوسټي بُک ايجنسي خيبربازار پېښور، ۲۰۱۴ء

اردو کتابيات

1. ادبي اصطلاحات (ترامیم و اضافه جات کے ساتھ)، پروفېسر انورجمال، نيشنل بُک فاؤنډيشن اسلام اباد،جنوري، ۲۰۱٦ء
2. تعليمي تحقيق اور اس کے اُصول و مبادي، ډاکټر احسان الله خان، نګارشات مياں چيمبرز ۳، ټمپل روډ لاهور، ۱۹۹۱
3. مباديات تحقيق، عبدالرزاق قريشي، خان بُک کمپني دکان نمبر۵-۴ کمپيوټر سنټر۳،کورټ سټريټ لوئر مال، لاهور

**Internet Sources:**

1. www.dictionary.com/browse/optimism,accessed on 24.04.2017
2. http://en.wikipedia.org/wiki/theodicee, accessed on 29.04.2017
3. http://www.dictionary.com/browse/optimism, accessed on May 16, 2018
4. https://www.psychologytoday.com/us/basics/optimism, accessed on May 16, 2018
5. https://en.wikipedia.org/wiki/Optimism, accessed on, May 16, 2018
6. https://www.merriam-webster.com/dictionary/optimism, accessed on May 16, 2018
7. http://www.pursuit-of-happiness.org/science-of-happiness/positive-thinking/ accessed on May 16, 2018
8. http://bigthink.com/hope-optimism/can-a-pessimist-become-an-optimist, accessed on May 16, 2018
9. http://www.thesaurus.com/browse/optimism, accessed on May 16, 2018
10. https://dictionary.cambridge.org/dictionary/english/optimism, accessed on May 16, 2018
11. https://www.nbcnews.com/better/health/how-train-your-brain, accessed on May 16, 2018
12. https://en.wiktionary.org/wiki/optimism, accessed on May 16, 2018